# مطبوعاتی پالیسي
# د ټاکنو خپلواک کمیسیون

## مبنی او هدف

دا پالیسي د افغانستان د ټاکنو د قانون په ۵۶ ماده کي د تفویض شویو صلاحیتونو په پام کې نیولو سره د ټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا د چارو د تنظیم، داړیکو د ټینګولو، په رسنیو کې د ټاکنیزو خبرونو د څارنې، او همدارنګه په رسنیو کې د کمیسیون د پیغامونو د دقیق او سم خپریدو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه تدوین شوی ده.

## تعریفونه

**لومړی ماده:** راتلونکي اصطلاح ګانې په دي پالیسي کې لاندې مفهومونه افاده کوي:

1. کمیسیون: د ټاکنو خپلواک کمیسیون چي د افغانستان د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پربنسټ جوړ شوی دی.
2. دارالانشا: د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارلانشا.
3. د بهرنیو اړیکو ریاست: د کمیسیون د دارالانشا د بهرنیو اړیکو ریاست چي د همکارو بنسټونو سره د اړیکو د ټینګولو مسؤولیت پر غاړه لري.
4. د ټاکنو ولایتي امر: د کمیسیون د ولایتي دفترونو په کچه مسؤول شخص دی.
5. رسنۍ: تلویزیوني شبکي، رادیویي شبکي، چاپي خپروني، انټرنیټي پاڼي، خبري اژانسونه.
6. د رسنیو چلند اصول: د باور لیک لرونکو رسنیو د چارو د تنظیم په موخه د کمیسیون لخوا تصویب شوی سند دی.

## رسنیز پوښښ:

**دوهمه ماده:** هغه مهال چي له کمیسیون څخه د هغې د فعالیتونو په اړه د مصاحبي او معلوماتو د ورکړې غوښتنه کیږي، کمیسیون باید د غوښتني له په پام کي نیولو سره د یو حساب ورکوونکي بنسټ په توګه د خپلو فعالیتونو په اړه د معلوماتو د ورکړې لپاره یو مناسب فرصت برابر کړي.

## مسؤولیتونه:

**دریمه ماده:** د رسنیو د مدیریت مسؤولیت د راتلونکو مواردو لرونکي دی:

1. د رسنیو سره د اړیکو ټینګول، ملی اونړیوالو رسنیو او نورو همکارو بنسټونو ته د هغوی لخوا د غوښتل شویو معلوماتو برابرول.
2. د ټاکنیزو پړاوونو پراختیا او پرمختیا ته د رسنیو د پاملرني را اړول.
3. په مطبوعاتو کي د ټاکنیزو خبرونو څارنه او کنترول، او رسنیو ته د کمیسیون په اړه د سم او مناسب انځور له ورکړې څخه د ډاډ تر لاسه کول.
4. د خپرولو په موخه د دارلانشا د ریاستونو څخه د ټاکنو د مختلفو پړاوونو د پرمختیا په اړه د معلوماتو تر لاسه کول.
5. د بحث وړ موضوعاتو په اړه د کمیسیون ویاند او نورو هغه ذیصلاح چارواکو ته چي د دي پالیسۍ پر اساس د مطبوعاتو سره خبري کولای شي د مشورو د ورکړې په برخه کي مرسته او همکاري کول.
6. د یوي ځانګړي موضوع په اړه د مصاحبي او د کمیسیون د رسمی نظرڅرګندولو وړاندیزونه د بهرنیواړیکو د ریاست د مطبوعاتو مدیریت لخوا تنظیمیږي.

## رسنیو سره د اړیکو ټینګول

**څلورمه ماده:**

**(۱)** د بیلابیلو ریاستونو لخوا رسنیو سره د اړیکو ټینګول یواځې د بهرنیو اړیکو د ریاست د رسنیو مدیریت لخوا صورت نیسي.

**(۲)** د بهرنیو اړیکو د رسنیو مدیریت باید:

- هر څومره زر چې شوني وي طرحه شویو پوښتنو ته د خبریالانو د ضرب الاجل په پام کې نیولو سره ځوابونه ورکړي.
- د امکان تر پولې په سمه، دقیقه او مناسبه توګه د معلوماتو په ورکړه کې ګزارش ورکونکو سره مرسته وکړي.

## له کمیسیون څخه استاځیتوب

**پنځمه ماده:** د دې پالیسۍ پربنسټ یواځې په دې ماده کې درج شوي کسان کولای شي رسنیو سره د کمیسیون په استاځیتوب خبرې وکړي:

1. د کمیسیون ویاند،
2. د کمیسیون ریس معاون او غړي،
3. د دارالانشا ریس او معاونین او د بهرنیو اړیکو د ریاست ریس،
4. د کمیسیون د ویاند د غیاب په صورت کې د بهرنیو اړیکو د ریس په استیذان د دارالانشا د مطبوعاتو مسؤول کولای شي د رسنیو سره خبرې وکړي،
5. د دارالانشا ولایتي امرین د دې پالیسۍ او د دارالانشا لخوا د ترتیب شویو لاربښودونو په پام کې نیولو سره کولای شي د رسنیو سره اړیکې ټینګې کړي،

## تطبیق

**شپږمه ماده :** د دې پالیسۍ تطبیق او له اجرا څخه یې څارنه د بهرنیو اړیکو د ریاست مسؤولیت دی.

## تخطي

**اومه ماده :** د دې پالیسي څخه د سرغړوني په صورت کې، کمیسیون د راتلونکیو مواردو په ګډون کولای شي نور جدي تنبیهي تدابیر هم د لاس لاندې ونیسي:

1. توصیه،
2. اخطار،
3. کسر معاش،
4. مماثل بست ته تبدیلول،

## د نافذیدو نیټه

**اتمه ماده :** د اپالیسي له تصویب وروسته خپره او نافذه ده.